# د ژوند خوږې او ترخې

ليکوال: داکټر معمار حشمت الله اتمر

[illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د ژوند خوږې او ترخې

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - لېږم / کال ۱۴۰۵

**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د کتې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتی.........................................................................** ۱
**بسم الله الرحمن الرحیم .......................................................** ۲
**لیکي پوهه:.......................................................................** ۳
**لړلیک .........................................................................** ٤
**تراڼ (پیل، شروع، برید)....................................................** ۵
**د یادښتونو له پاره:.................................................................** ۷
**ناندوله (ناول، کیسه یا داستان) ..............................................** ۸
**د چاپ شویو کتابونو لېست.....................................................** ۵۸
**د کار لاندې کتابونو لېست .....................................................** ٦۲
**د امکان او وخت په صورت کې....................................................** ٦۳
**د پخښتی ځېږ .................................................................** ٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

.................................

## ترانې (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يوه بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه، کابل ولايت کې پيل شوې، بيا پېښور ښار ته غزېدلې او وروسته بېرته کابل ولايت ته راغلې او تر اوسه محاله روانه ده، د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

.................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

....................................

**د یادښتونو له پاره:**

۱- .......................................................................................

۲- .......................................................................................

۳- .......................................................................................

۴- .......................................................................................

۵- .......................................................................................

۶- .......................................................................................

۷- .......................................................................................

۸- .......................................................................................

۹- .......................................................................................

۱۰- .....................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کيسه يا داستان)**

مؤفق په يوې ديندار او روښانه کورنۍ کې، د کابل ولايت په اومې (سيمې يا ناحې کې سترګې دې نړۍ ته خلاصې کړې (وغوړوې).

د هغه کورنۍ لويه او څو ورونه او خويندې يې درلودې.

دا هم د کورنۍ، منځنی اولاد (زوی) و.

د هغه په زيږيدو سره د هغه په کورنۍ کې خوشحالي او بدلونونه راغلل.

په دوهيمې ورځ، مور يې د هغه پلار ته و ويل:

سبا د خير سره، الک د کلي جومات ته يوسه، تر څو په غوږ کې يې آذان او ښه نوم پرې کيږدي.

سبا د هغه پلار وختي د دندې نه راغی، خپله دريشي يې بدله (تبديله) کړه.

بيا يې ملي جامې (کميس او پرتوګ) واغوستل، واسکټ يې هم تن ته، کړ.

اودس يې تازه کړ.

بيا يې الک په غيږ کې ونيوه او د کور نه د باندې شو.

څو دکيکې وروسته، جومات ته ورسيد.

ملا امام په جومات کې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الته یواځې مؤذن د جومات تر څپرې لاندې، پروت و.

د الک پلار هغه ته نږدې او د هغه نه یې پوښتنه وکړه:

مولوي صیب چېرې دی؟

مؤذن و ویل:

هغه بلې دیني مدرسې ته، د درس ورکولو له پاره، تللی دی.

بیا یې و پوښتل:

څه وخت به، راشي؟

مؤذن خپلې ګړۍ ته وکتل او ویې ویل:

د مازیګر لمونځ وخت نږدې دی.

څو دکیکې وروسته به، راشي.

ته هم دلته کښېنه!

اوا (هوا) ګرمه ده.

بیا یې دالک پلار ته و ویل:

دا ماشوم نوی دې نړۍ ته راغلی دی؟

د الک پلار و ویل:

هو!

بیا یې و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې کېږي؟

د الک پلار و ویل:

پرون زیږېدلی دی.

مؤذن بیا و پوښتل:

الک دی که جلۍ؟

د الک پلار و ویل:

الک دی.

بیا یې هغه ته مبارکي و ویله.

د الک پلار هم، د هغه نه مننه وکړه.

بیا ور نږدې شو.

مخ یې ورته وکوت.

و یې ویل:

ماشاءالله!

ښکلې الک دی.

الله دې تاسوته، نېک صالح لوې کړي.

بیا یې و پوښتل:

نوم خو به مو پرې نه وي ایښی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

....................................

د الک پلار و ویل:

تر اوسه، نه!

زمونږ په کام (قام، قوم) کې د دوو نومونو رواج، شته.

یوه نوم یې اصلي چې تذکېرې (تذکرې) کې هم په هماغه نوم یادېږي
چې د دیني علماوو له خوا پرې ایښودل کېږي.

دوېیم نوم یې کورنی وي.

په دوېیم نوم یواځې په کور کې یا هم کوڅو کې په هغه نوم یادېږي.

دوېیم نوم ته یې کورنی نوم یا لقب (تخلص) وایي.

بیا مؤذن و پوښتل:

کورنی نوم مو پرې ایښی دی؟

د الک پلار و ویل:

هو!

سهار د لمانځه نه وروسته مې پرې نوم کېښود.

مؤذن بیا و پوښتل:

څه مو پرې کېښود.

د الک پلار و ویل:

مؤفق (بریالی) مو پرې کېښود.

مؤذن و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکلی نوم دی.

بیا دې هم، مبارک وي.

هغوی په خبرو اخته وو.

په دې وخت کې د جومات ملا امام ورسېد.

د مؤذن ورته، پام شو.

بیا یې د الک پلار ته و ویل:

اغه دی.

مولوي صیب هم، ورسېد.

مولوي هغوی ته نږدې او سلام یې ورکړ.

مؤذن په بیړې سره، د هغه سلام ته، ځواب و وایه.

په دې وخت کې مؤذن د احترام په خاطر له خپله ځایه، ودرېد.

د الک پلار هم و غوښتل چې د خپل ځای نه، ودرېږي.

مولوي صیب د هغه پر اوږې لاس کېښود.

هغه ته یې و ویل:

ته کښېنه!

ستا په غېږ کې، ماشوم دی.

مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

..................................

بیا مولوي صیب هم د هغو تر څنګ کښېناست.

د الک پلار و ویل:

مولوي صیب!

وخت لرې؟

مولوي صیب و ویل:

هو !

خیریت خو به، وي.

د الک پلار و ویل:

هو!

خیریت دی.

غوښتل مې چې زما د زوی په غوږ کې اذان او هغه ته ښه نوم و ټاکې.

مولوي صیب و ویل:

سمه ده!

ما سوچ کوه چې هغه دې د دم له پاره، راوړی دی.

بیا یې و پوښتل:

څو ورځې کیږي چې زیږېدلی (پیدا شوی) دی.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرون زېږېدلی (پيدا شوی) دی.

بيا يې و ويل:

مبارک دې وي.

وروسته يې الک د پلار د غېږ نه واخيست او د بسم الله په ويلو سره يې خپلې غېږې کې، واچوه.

په غوږ کې يې ورته آذان وکړ او ډېر ښکلي نوم (کتابي) نوم يې پرې کېښود.

بيا يې هغه ته د خيردوعا (دعا) وکړه.

الک يې بېرته، د هغه پلار ته ورکړ.

د الک پلار هم د مولوي صيب نه مننه وکړه او په يوه پاکټ کې چې سوغات يې په پام کې نيولي و، مولوي صيب ته، وړاندې کړ.

مولوي صيب ډېر کوښښ وکړ تر څو، سوغات وانه خلي.

دالک پلار ورته و ويل:

دا د خوشحالۍ او ديوه مسلمان د ډېرېدو، سوغات دی.

څرنګه چې خبرياست، زما روزګار، شکر ښه دی.

دا يوه شېريني ده.

که وايې نه خلې، زه به خپه شم.

بيا مولوي صيب و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې ټینګار کوي، مجبوره وایې خلم.

مولوي صیب سوغات، مؤذن ته ورکړ او هغه ته یې، ویې ویل:

دا کوټې ته یوسه او په الماریۍ کې یې کېږده.

بیا به یې په شریکه سره د نورو میلمنو او چای سره وخورو.

مؤذن و ویل:

سمه ده!

په دې وخت کې د الک پلار هم له ځایه، پاڅېد.

د مولوي صیب او مؤذن نه یې خدای پاماني واخیسته او خپل کور ته، روان شو.

کورته، ورسېد.

نورو ماشومانو یې په خوشحالۍ سره د هغه مخې ته ورسېدل.

هر کس به هغه ته د نوم مبارکي ویله.

د الک پلار به هم، مننه کوه.

څو ورځې، تېرې شوې.

د الک خپل او خپلوانو، هغه ته، و ویل:

باید د الک د پاره د شیرمې شپې خوشحالۍ (شب شش) مجلس ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

..................................

تر دې دمخه باید هغه سونت (سنت) او ښکلي کالي هغه ته، جوړ کړئ.

بیا دوستان خبر، ساز او سرود برابر کړئ.

دوستانو او مېلمنو ته باید د شپې ښه ډودۍ (قابلي پلو) ورکړئ.

هغه دوستانو ته، و ویل:

سمه ده!

څو ورځې، تېرې شوې.

د الک شپږ ورځې پوره شوې.

بیا یې هغه ته، د شپږمې شپې مجلس و نیو.

دوستان یې خبر کړل.

ښه قابلي پلو یې پوخ او په ګډونوالو یې، و وېشه.

ډول، ډول کېسوټونه به یې ټیپ ته اچول، خلکو به ورته لاسونه وهل او ځینو به نڅاوې او اتڼ هم، کوه.

شپه یې په خوشحالۍ سره، تېره کړه.

سهار شو.

میلمانه هم ورو، ورو(کرار، کرار) خپلو کورنو ته، لاړل.

مؤفق هم ورو، ورو مخ په لوېدو او د ښوونځي شو.

پلار یې د ښه ښوونځي، په لټه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې
....................................

په هغه پیر کې یوازې حکومتی (دولتی) ښوونځي وو.

د دوې د کور نه لرې د لسو نه تر پنځلسو دکیکو پورې، لمړنی ښوونځی شتون درلود.

د ښوونځي ښه سن (عمر) د هغه وخت د حکومت له خوا، اووه کاله ټاکل شوی و.

مؤفق په دې وخت کې، شپږ کلن و.

پلار یې وغوښتل، هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړي.

د تعلیمې نوی کال په هغه وخت کې، د وري په دریمه پیلېده.

د وري لمړۍ ورځ به د نوي کال، رخصتي وه.

دویمه ورځ به یې د بزګر ورځ او په ټول هېواد کې به رخصتي وه.

دریمه ورځ به معارف د ورځې لمانځنه (جشن) او رخصتي وه.

پلار یې د وري (حمل) د میاشتې په څلورمې نېټې،هغه یې ښو ونځي ته، یوړ.

بیا د ښوونځي اداري ته د ننه شو، د ښوونځي مدیر ته یې ځان ور وپېژاند او بیا یې زیاته کړه.

مدیر صیب!

زه غواړم خپل زوی، مؤفق په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړم.

هغه و ویل:

سمه خبره ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې د هغه نه وپوښتل:

مؤفق، څو کلن دی؟

هغه و ويل شپږ کاله يې پوره کړي او پينه يې په اوومه اينبې ده.

بيا مدير، مؤفق ته و ويل:

دلته راشه!

مؤفق، مدير ته نږدې شو.

او د هغه مخې ته، ودرېد.

مدير مؤفق ته، و ويل:

خوله دې خلاصه کړه:

هغه خپله خوله خلاصه کړه، د هغه غاښونه يې ولېدل.

بيا يې د مؤفق پلار ته، و ويل:

د هغه تذکره در سره شته؟

هغه و ويل:

هو!

دا ده، د هغه تذکره.

د ښوونځي مدير د هغه تذکره په زير سره وکتله او د هغه پلار ته يې و ويل:

هغه اووه مياشتې نور هم، وخت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه شم کولای، هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړم.

ښه به وي چې هغه بل کال ته راولې.

د موٴفق پلار ډېر کوښښ وکړ تر څو د ښوونځي مدير ته قناعت ورکړي.

خو، هغه و نه منه.

بيا مدير خپل چايچې ته و ويل چې، د موٴفق پلار ته يوه پياله چاى راوړه.

چايچي و ويل:

سمه ده!

د موٴفق پلار چايچي ته و ويل:

نه!

ځان مه په زحمت کوه.

مننه کوم.

د موٴفق پلار، له ځايه پاڅېد، د مدير نه يې خداى پاماني واخيسته او خپل کور ته، لاړ.

د کور ته رسېدو سره، د هغه ښځې پوښتنه وکړه:

د موٴفق کار، څنګه شو؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سږ کال نه، پاتې شو.

بیا هغې و ویل:

ولې؟

د مؤفق پلار ورته و ویل:

هغه پوره اووه کلن، نه و.

مدیر ما ته ډاډ راکړ تر څو، هغه به بل کال ته، هرو مرو په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړي.

بیا پلار یې خپلو زامنو او لورګانو ته و ویل:

تر کاله پورې د هغه سره مرسته وکړئ، تر څو، څه زده کړي.

اولادونو یې، و ویل:

سمه ده!

تاسو هغه ته کلمونه او کتابچې وپېرئ.

هغه و ویل:

سمه ده!

سبا یې مؤفق ته کلمونه او کتابچې و پېرې.

بیا یې هغه ته، وسپارې.

خویندو او ورونو یې هم، د هغه سره لیک او لوست پیل کړ.

هغه په لږ وخت کې، ډېر شیان زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال تېر شو.

بیا نوی کال، راورسېد.

پلارېې بیا هغه ښوونځی ته د مخه کړ.

داځل د هغه سن (عمر) د ښوونځي د پاره پوره شوی و.

هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) شو.

هغه د ښوونځی سره مینه درلوده.

سبکونه (سبقونه) به یې ویل.

لمړنی ښوونځی یې، په بري سره پای ته، ورساوه.

بیا په لېسې کې، ګډ (شامل) شو.

ځلور کاله یې الته سبک ( سبق) و وایه.

بیا د هغې لېسې نه خلاص (فارغ) شو.

د هغه شوک (شوق) د انجینرۍ سره و.

هغه د پوهنتون د کانکور آزموینه ورکړه.

خپل د زړه ځانګې ته، نه و بریالی شوی.

بیا یې کوښښ وکړ تر څو د کابل پولیتخنیک پوهنتون کې د هایدرو تخنیک ځانګې کې، زده کړې وکړي.

بیایې د باندنیو هېوادونو په پوهنتونو کې د زده کړې شوک (شوق) وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

.................................

او الته د چمتووالی (آماده ګۍ) په پوهنځي کې يې نوم ليکنه او اسناد يې د شرطونو(شرايطو) سره سم، بشپړ کړل.

مياشت وروسته يې سبکونه پيل شوو.

د هغه سبکونه (سبقونه) د کابل پوليتخنيک پوهنتون چې په هغه وخت کې د کابل پولېتخنيک انستيتيوت نوميده په شپږمې شپې خونې (ليليې) کې پيل کړل.

د ورځې به سهار وختي له خوبه پاڅېد، چای به يې څښه او وروسته به له کوره و وت.

لمړی به په ملی بس کې خاته او د ښار پامير سينما ته نږدې له ملی بس نه کوزېده او بيا به د برېښنايي بسو تم ځای ته، ته او په برېښنايي موټرو کې به کېناسته او د پولې تخنيک پوهنتون د سترې (لويې) دروازې ته نږدې به له برېښنايي بس کوزېده او الته، د ننه کېده.

دوې سمستره سبکونه (سبقونه) يې الته، بشپړ کړل.

بيا ټول د چمتووالی (آماده ګۍ) پوهنځي زده کړيالان، د نورو لوړو زده کړو د پاره ټول د پخواني شوروي هېواد پنځلسګونو جمهوريتونو پوهنتونو نو ته، ور وپېژندل شوو.

هيڅوک نه پوهېده چې په کوم جمهوريت او کوم انستيتيوت (پوهنتون) کي به نورې زده کړې، تر سره کړي.

په هېواد کې د ټولو زده کړيانو د پاره پاسپورتونه جوړ او صحي معاينات هم بشپړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

...................................

بیا هغوی ټولو ته، د شوروي هېواد ویزې هم په پاسپورتونو کې ولږول شوې.

وروسته په وار(نوبت) سره زده کړیالانوته د الوتکو ټیکټونه هم وپېرل شوو.

دا ټول مصارف د هغه وخت د حکومت په غاړې و.

د نږدې آسیایي جمهوریتونو زده کړیالان به د اوزبکستان هېواد تاشکېنت (تاشکند) پورې الوتنې کوې او بیا به د هغه ځای نه د ریل ګاډي (آورګاډي) په مرستې به ټاکل شویو جمهوریتونو ته، تلل.

مؤفق هم نږدې اروپایی هېواد ته، ټاکل شوی و.

بیا هغه د کابل هوایي ډګر نه تاشکېنت (تاشکند) ښار بیا وروسته د دوې ګړیو تم (وقفې) نه وروسته د تاشکېنت (تاشکند) د هوایي ډګر په ودانۍ (ترمینل) نه وروسته د روسې مرکز یانې مسکو ښار ته الوتنه وکړه.

څو شپې او ورځې یې الته تېرې کړې.

هغه او نور کسان، نه پوهېدل چې کله او کومې خوا به سفر وکړي.

هغه اونورو زده کړیالانو د بهرنیو ملکونونه په یوې شپې خوني (لیلې) کې ژوند کوو.

الته درې وخته ډوډۍ او چای، په وړیا توګه و.

مګر د سهارچای، غرمې او د شپې ډوډۍ له پاره وخت ټاکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

..................................

ټولو زده کړیالانو کولای شو خپلې ستونزې په روسي ژبې حل او یوه د بل سره خبرې وکړي.

ورځ بله هم، تېره شوه.

یوه کس چې لیسټ یې په لاس کې و شپې خونې (لیلې) ته، ننوت.

کوټه په کوټه به، ګرځېده.

د خپل لیسټ کسانو ته به یې ویل:

چابک شئ.

خپلې کڅوړې او بکسونه را واخلي او د شپې خونې (لیلې) د وتلو دروازې ته، ځانونه ورسوئ.

بیا به زه تاسو ته، الته بله (نوره) لارښوونه وکړم.

زده کړیالانو ومنه او هر کس (څوک) د خپلو کڅوړو او بکسونو سره، ټاکلې ځای کې ټول (غونډ) شوو.

کس بیا راغی او د دوېیم ځل د پاره یې لیسټ ولوست.

ټول حاضر وو.

بیا په دې وخت کې یوه بس موټر دروازې ته راغی او ودرېد (تم) شو.

چلونکی یې د ننه شو او د مسؤل کس سره یې لنډې خبرې وکړې.

مسؤل کس زده کړیالانو ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وار سره، بس ته پورته او څه مو په دې شپې خونې (ليلې) کې له هېره (ياده) و نه وځي.

زده کړيالانو و ويل:

سمه ده!

بيا هغوی ټول په وار (نوبت) سره بس ته، و ختل.

نيمه ګړی مزل نه وروسته، هغوی د ريل ګاډو لوی تم ځای (د ريل ستېشن) ته ورسېدل.

بس د ننه په خاص ځای کې، تم شو.

بيا کس به د زده کړيالانو نومونه اخيستل او ډله، ډله به يې ځانګړو ريل ګاډو ته، خېژول.

هغوی به يې د ريل ګاډو لارښود ته سپارل او څه پيسې (روبل) به يې هم، هرکس ته د لاري خرڅ او خوراک د پاره ورکول تر څو خپلو پوهنتونو شپې خونو (ليليو) ته، ورسېږي.

د ريل ګاډو ټکټ به يې د پاسپورټونو په منځ کې ايښی او هرکس ته بې، ورکاوه او هغو ته به يې ويل:

دا ستا پاسپورت، ويزه او تر ټاکل شوي ښار پورې ستا ټکټ.

ښې زده کړې.

تاسو په مخه، ښه.

د خدای پامان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

...................................

ریل ګاډو به په خپل ټاکل شوي وخت، حرکت کاوه او خپلو ښارونو ته بهو تلل.

د مؤفق اورګاډی هم یوه ګړۍ وروسته مخ په باکو ښارحرکت وکړ.

ریل ګاډی به ورو، ورو د ښار نه لرې کېده او په شنو دښتو او ځنګلونو کې به یې، حرکت کاوه.

دوې شپې او دوې ورځې یې، حرکت وکړ.

بیا د بلې ورځې په ماسپښین باکو (د آذربایجان پلازمینې) ښار د ریل تم ځای ته ورسېد.

ریل ګاډی تم ځای کې، ودرېد.

خلکو، په ښکته کېدو پیل کړ.

د ریل ګاډي لارښود، راغی.

نوو زده کړیالانو ته یې و ویل:

تاسو ځانونه تیارکړئ.

د واګون (دریل یوې برخې) په دالان کې لږ انتظار وکړئ.

ستاسو د پوهنتونو مسؤل اداری کس، راځي.

تاسو به تر خپلو شپې خونو (لیلیو) پورې، ورسوي.

هغوی ومنه او د څو دکیکو له پاره د واګون په دالان کې انتظار شوو.

مسؤل کس ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا واګون ته ،د ننه شوو.

د هغه کس په لاس کې، لیسټ وو.

بیا هغه کس، خپل کسان جلا کړل.

هغوی نه یې و غوښتل چې هغه، تعقیب کړي.

کس مخکې او زده کړیالان، ورپسې وو.

ټول د ریل ګاډي ودانۍ نه بهر او د بسونو تم ځای ته، ورسېدل.

بیا د کس په لارښوونې سره سم، هغوی بس ته و ختل، خپلې کڅوړې ، بکسونونه یې هم موټر ته د ننه کړل او د بس په پای (آخره) کې یې، ځانه سره څوکیوته، نږدې کېښودل.

بس حرکت وکړ.

څود کیکي وروسته د ښار او بیا خپلې کرښې د هر تم ځای کې په د څوارلیو د پاره درېده تر څو اړ کسان کوز او یا هم نوي کسان بس ته، را پورته شي.

د پوهنتونو د شپې خونو (لیلیو) سیمه ورسېده.

بیا مسؤل کس زده کړیالانو ته و ویل:

د بس د درېدو سره ټول د بس نه کوز او کوښښ وکړئ تر څو څه مو په بس کې پاتې نه شي.

زده کړیالانو و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس تم ځای کې ودرېد.

مسؤل کس او زده کړیالان، د بس نه ښکته (کوز) شوو.

بیا مسؤل کس د مخه او زده کړیالان ور پسې شوو.

لمړی مسؤل کس د پولیتخنیک انستیتیوت شپې خونې دروازې ته نږدې شو.

زده کړیالانو ته یې و ویل:

د څو دکیکو له پاره، دلته ودرېږئ.

هغوی ودرېدل.

بیا هغه مسؤل کس د شپې خوني (لیلې) مسؤل سره د باندې شو.

د لیسټ سره سم، زده کړیالان یې هغه ته وسپارل، او د هغوی سره یې خدای پامانې وکړه.

بیا نورو ته یې، و ویل:

راځئ!

اوس به د ستاسو شپې خونو (لیلیو) ودانیو ته لاړ شوو.

مؤفق و پوښتل:

زمونږ شپې خوني (لیلې) دلته نه شته؟

مسؤل کس و ویل:

ستاسو د شپې خونې ودانۍ لږ اخوا، دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې
...................................

دا څو شپې خونې د پولې تخنیک انستیتیوت پورې، اړه لري.

دوې ودانۍ یې د الکانو او یوه ودانۍ یې د انجونو د پاره دي.

هغوی نور هم، وړاندې لاړل.

التـه څو پنځه پوړې او دوې نهه پوړې ودانۍ ښکارېدې.

مسؤل کس و ویل:

دا ټولې شپې خونې ودانۍ، د آذربایجان ودانیزو(ساختماني) انستیتیوت پورې، اړه لري.

دلته دوې پنځه پوړې وداني د ځایي خلکو د پاره دې ، چې یوه یې د الکانو او دوېیمه یې د انجنو د پاره ده.

مګر دا یوه پنځه پوړې او دوې نهه پوړې ودانۍ د بهرنیو زده کړیالانو د پاره دي.

دا یوه څوکاله د مخه او دهغه بله یې اوس جوړه شوې، تاسو ته به ډېر ژر خونې (کوټې) په نښه، تاسو به په کې ارامه او آسوده ژوند وکړئ.

په خبرو، خبرو هغوی یوې پنځه پوړېزې ودانۍ ته ورسېدل تر څو التـه د نورو بهرنیو زده کړیالانو سره د څو مودې له پاره ژوند، وکړي.

مسؤل کس بیا شپې خونې ته ننوت او زده کړیالانو ته یې و ویل:

تاسو دلته د څو دکیکو د پاره، انتظار وکړئ.

هغوی و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

مسؤل کس بیا د بل کس سره د باندې شو.

هغه ته یې زده کړیلان د لیسټ سره سم وسپارل، بیا یې د هغوی سره خدای پاماني وکړه او خپلې موخې پسې لاړ.

د انستیتیوتونو او پوهنتونونو سبکونه (درسونه) نه ول پیل شوي.

هره ورځ به نوي زده کړیالان د بهرنیو ملکونو نه، د زده کړو له پاره، راتلل.

زده کړیالان هم اوزګار وو.

هغوی به ډله، ډله ښار ته تلل.

اخوا دېخوا به ګرځېدل.

د کسپین بحیره، چې ښار ته نږدې وه، تلل.

البته به، د بحیرې غاړې (بلوار) کې ګرځېدل.

کله به هم، په تفریحي کښتیو کې سپرېدل او د بحیرې تر ټاکلې ځای پورې به، تلل او بېرته راګرزېدل.

کله به هم د یوه پله تر پایه تلل کوم چې په بحیرې کې جوړ شوی او په پای کې یې یوه رستورانت هم و، تلل.

په رستورانت کې به ډوډۍ خوړې او آذری چای څښل.

زده کړیالان به سینماوو ته هم تلل، کوم کې به چې هندي او یا د نورملکونو فلمونه، چلېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوړې او ترخې

...................................

مؤفق هم د نورو ډلو سره یوه ځای کېده، اوکله به یې په شپې خونې کې تر ډېره وخته، بیده کېده.
څو ورځې تېرې شوې.

سبکونه (درسونه) پیل شوو.

هر کس د خپلو پوهنځیو ودانیو، استادانو او ټولګیوالو (همصنفیو) سره بلد شوو.

بیا ټول نوې راغلي زده کړیالان نوې شپې خوني (لیلې) ودانۍ چې نوې جوړه شوې او نهه پوړه یې درلودل، لاړل.

هغه وداني په سیمې کې ډېره نوې او عصری شپې خونه (لیله) وه.

وداني تل پوړ او څو د مجلسونو، تالارونو وداني یې، هم درلودې.

دا وداني د یوې کوشنۍ بحیرې ته څیرمه شتون درلود.

په هر پوړ کې یې کتابخونه، د رسم او تخنیک خونه، پخلنځای، زینې او لفټونه هم، درلودل.

هرې خونې یې ځانته، حمام او تشناب درلود.

د یوې خوا خونې، د دوو کسانو او د بلې خوا خوني د درېیو کسانو له پاره، ډېزاین شوې وې.

په خونو کې داسې کوچونه (کټونه) ول چې د ورځې له خوا به د ناستې او د شپې له خوا به لماستې (بیدو کېدو) د پاره کارېدل.

بالښت، بړستنه (کمپله) اوپټو(روجایی) به ترې لاندې ایښودل کېدل کوم چې به، د باندې خوا، نه لیدل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې تېرېدې او سمسټرونه بشپړ کېدل.

د زده کړې په څلورم کال کې يې کوژده وکړه.

کال بل يې هم الته تېر، کړ.

د ودانيزو انستيتيوت نه د ماسټرۍ په کچي و وت (فارغ) شو.

بيا د هوډ سره سم، خپل هېواد ته راغی، چې هېواد ته ګټه ورسوي (خدمت وکړي).

لنډه موده يې په کورکې، تېره کړه.

بيا جبري عسکرۍ ته، ور وپېژندل (سوق) شو.

هغه د ورور وژنې سره، کرکه درلوده.

کوښښ يې وکړه تر څو يوې غير محاربوې کتې (قطعې) کې ځان ځېره (سوق) کړي.

هغه په ډېرو واسطو سره ځان د کابل ښار په يوې  غير محاربوې کيتې (قطعې) کې ځان ځېره (شامل) کړ.

په هغه وخت کې، چا چې د ماسترۍ زده کړې سند درلود، د هغه له پاره ۶ شپږ مياشتې عسکري وه.

بيا د لږ وخت په تېرېدو سره، دا وخت په دوې برخو، و وېشل شو.

د محاربو کيتو(قطعو) له پاره هماغه شپږ مياشتې او د غير محاربو کيتو(قطعو) له پاره، يوه کال شو.

بيا دا هم بدله او د فصل موضوع په کې، ګډه او يا ډېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې
..................................

مؤفق مسکین چې د شپږو میاشتو په نیت عسکرۍ ته، تللی و، د ناڅرګنده برخه لیک سره، مخامخ شو.

بیا د هغوی کیته (قطعه) د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ ته لاړه.

کله ناکله به یې، په جګړو کې هم، برخه اخیسته.

یوه ورځ چې هغه ډیر خواشینی و، کوماندان یې امر وکړ تر څو ټول د سروبې ولسوالۍ یوې نارامې (نا امنه) سیمې کې د چانیزو (تصفیوی) عملیاتو ته، لاړ شي.

د هغوی کیته د سهار وختي هغې سیمې ته، ورسېده.

په سیمې کې جګړه پیل شوه.

هرې خوا به د هاوانونو او راکټونو مرمۍ، لړېدې.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې، چې مؤفق هم د پښو په زنګنو کې څو چرې وخوړې او کلک ټپي شو.

ډز او ډوز روان و.

هغه ځان څه د کربښې نه، کناره کړ.

نورو عسکرې ملګرو یې هغه سره مرسته وکړه او د جګړې د سیمې نه یې بهر او د سروبی ولسوالی روغتون ته یې، ولیږداوه.

بیا وروسته هغه یې، کابل عسکری روغتون ته ورساوه.

ډیره موده یې په روغتون کې، تېره کړه.

لړ په ګرځېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هېواد کې حالات بدل شوو.

کمونيستې پلوی حکومت لړنګ شو.

مجاهدين واک ته، ورسېدل.

هغه هم څه موده ورسته، د عسکرۍ نه خلاص (فارغه، ترخيص) شو.

هغه خوشحاله شو او شکر يې وباسه.

هغه د لوی جنجال نه، خلاص شو.

څلور مياشتې نه وې تېرې شوې چې، تنظيمي (خپلمنځي) جګړې پيل شوې.

کابل په څو برخو، و ويشل شو.

د ورځې او شپې به، راکټونه او د هاوان مرمۍ، ورېدې.

هره ورځ به، په سلهاو کسان شهيدان او ټپي کېدل.

خلکو به د ښار يوې خوا نه بلې خوا او يا به، د کابل ښار نه نورو امنو ولايتونو ته، کډه کوه.

جګړه نږدې او د مؤفق تر کورو، ورسېده.

د هغه کورنۍ د څوګاونډيانو سره هوډ وکړ تر څو خپل کورونه پرېږدي او د ښار بلې سيمې ته کډه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

..................................

هغوی یوه د بار وړونکې لارې ومونده او د چلونکي سره یې خبرې وکړې تر څو سهار لمانځه نه مخکې، د هغوی د کورونو تر څنګ ودرېږي .

هغوی ټولو خپل اړتیا وړ کالي، لوښي، ګانې او نغدې پیسې سره ټولې او د موټر په انتظار شوو.

شپه پخه وه.

هرې خوا د درنو او سپکو ډزو،غږونه (آوازونه) اورېدل کېدل.

ګړې بله هم، تېره شوه.

په کوڅې کې د موټر غږ شو.

ګاونډیانو، کومو چې د تېښتې هوډ درلود، د باندې و وتل.

ویې لیدل چې هماغه، لارۍ ده.

الکانو په پېړې سره، کالي لارۍ ته و خېژول.

بیا ښځې، ماشومان او وروسته په خپله هم لارۍ موټر ته، وختل.

چلونکي، لارۍ ته، کش ورکړ.

د اوممې سیمې نه و وت، ارتل پول (پل آرتل) ته ورسېد.

خلک حیران وو چې، کومې خوا لاړ شي.

ځینو و ویل:

مخ په سینمای پامیر بیا به وروسته پرېکړه، وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

.................................

ځینو نورو، و ویل:

التـه د وحدت ګوند پلویان (هزاره ګان) دي.

مونږ تاجیک او پښتانه یوو.

کېدای شي پر مونږ ډزې او یا مونږ برنته کړي.

بیا خلکو پرېکړه وکړه تر څو د کابل ښار شمالي سیمې خوا (خیر خانې مېنې) ته لاړ شي.

پرېکړه، ومنل شوه.

موټر هم د آرتل پول (پل آرتل) نه بې لاسه وا وښت او ده افغانانو سیمې ته لاړل.

ځیني راکټونه به، د هغوی د سر نه تېرېدل او د چاودنې غږ به یې هغوی، اورېده.

په ځینو پوستو(پاټکونو) کې به د هغوی نه، څه پیسې د ټوپک په زور، هم اخیستل کېدې.

بیا هغوی د خیر خانې مېنې د هزارې بغل سیمه، و ټاکه او التـه ټول د دوستانو په یوه کور کې مېشت شوو.

په ګډه به یې پخلی کاوه.

بیا په مناسب وخت کې به، خپلو کورونو ته، تلل او خپل اړتیا وړ شیان به یې التـه، لېږدول.

څو میاشتې، تېرې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

....................................

هغوی هوډ وکړ(تصمیم ونیو) چې ننګرهار ولایت ته، لاړ شي.

بیا ټول د نورو کسانو سره ننګرهار ولایت ته، لاړل.

څه موده یې په کمپونو کې، تېره کړه.

بیا د ګاونډ هېواد (پاکستان) کش پیدا کړ.

هر چا به ویل چې:

الته وړیا مرستې (راشن) ژر، ژر وېشل کیږي.

الته ښوونځي هم د ملګرو ملتونو په مرستې پیل شوې دي.

برېښنا او نورې آسانتیاوې، هم شته.

ځینې کارونه هم، موندل کیږی.

بهرنیو هېوادونو ته تګ هم، ورځ تر بلې ډېرېږي.

د کابل ښار نه بې ځایه شویو ځینو مهاجرو، تصمیم ونیو، تر څو ننګرهار نه پېښاور ښار ته، کډه شي.

مؤفق هم د خپلې کورنۍ سره سهار وختی په یوه موټر کې کښېناست او مخ په پېښاور یې، حرکت وکړ.

دوې ګړۍ وروسته تورخم (طورخم) لیکې (کرښې، سرحد، بورډر) ته ورسېدل او څو دکیکې وروسته د لیکې وا وښتل.

د لیکې اخوا د ملګرو ملتونو د نوم لیکنې (راجسټر) یوه کمپ و.

مسؤلو کسانو د پاکستاني پولیسو په مرستې د هغو موټر د سړک تر غاړې ودراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

...................................

بیا یې د نوم لیکنې (راجستر) له پاره د هرې کورنۍ مشر د تذکرو سره، ملګرو ملتونو مرکز(کمپ) ته، وغوښتل.

مؤفق هم د خپل پلار سره، کوز شو.

د ملګرو ملتونو کمپ ته، ننوتل.

الته یې نوم لیکنه (راجستر پاڼه) بشپړه او د مرستو کارت یې تر لاسه کړ.

بیا یې مخ پر پېښور ښار، حرکت وکړ.

ګړۍ وروسته، الته ورسېدل او په یوه کمپ کې، کډوال شوو.

الته یې خیمې او نور څه شیان تر لاسه، کړل.

کال دوې یې الته تېر، کړل.

بیا یې زړونه په تنګ شوو.

او هوډ یې وکړ تر څو، بېرته، هېواد ته، راشي.

بیا یې کډې په لاریو کې بارې کړې او مخ پر هېواد یې حرکت وکړ.

په تورخم (طورخم) کې او پاکستان نه د وتو نه خپل کارتونه راجستر کړل.

څه نغدې مرستې یې تر لاسه بیا هېواد ته، ستانه شوو.

لمړی جلال آباد ښار بیا وروسته کابل ته، ورسېدل.

کوښښ یې وکړ تر څو خپل کور، کوم چې په نوې کارتې (کارته نو) سیمې کې شتون درلود، د ستونزو سره، سره لاړشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی الته ورسېدل.

څه موده یې الته تېره کړه بیا وروسته زړو مکرویانونو ته یې کډه وکړه.

الته به یې بلاکونو د برېښنا په برخې کې د خلکو سره، مرستې او لار ښوونې کوې.

څه موده، تېره شوه.

یوه ورځ هغه د نورو کسانو سره د برېښنا د مزو په بیا رغونې کې بوخت او څه ماشومان هم اخوا دېخوا ګرځېدل.

په دې ترخ کې یوه د راکټ مرمۍ هغوی ته نږدې په ځمکې ولګېده او دوړې یې وکړې.

مؤفق له ځایه، پاڅېد.

ویې کتل، ماشومان په وینو لېت پېت دي.

بیا یې ځان ته پام شو چې وینې یې له ستونې بهېږي.

ویې غوښتل چې چیغه کړي.

خو و نتوانید د خولې نه، غږ پورته کړي.

د ستونې توتکه (حنجره) یې پریکه شوې وه.

په چپه لاس یې خپل ستونی ونیو او ویې غوښتل چې پوخ سړک ته، ځان ورسوي.

په دې وخت کې خلکو هم، د هرې خواوو نه، منډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

....................................

ماشومانو او لويانو سره بېړنۍ مرستې، پيل شوې.

بيايې ټول ټپيان په موټرو کې واچول او د وزير محمد اکبر خان روغتون ته يې، ورسول.

د مؤفق او نورو ټپانو درملنه پيل شوه.

هغه په هېواد کې ډېره دوايې وکړه، مګر کومه ګټه يې ونه رسوه.

بيا اړ شو پاکستان هېواد ته، د درملنې له پاره لاړ شي.

التـه يې د څو کلنو د پاره، دوايي وکړه.

درې کاله وروسته هغه و توانېد بيا له حنجرې نه، غږ و باسي.

د دوايي نه وروسته هغه بېرته، کابل ښار ته راغی.

ويې غوښتل يوه دنده تر لاسه کړي.

لمړی د خپلو اسنادونو پسې وګرځېد، کوم چې د راتګ نه وروسته د وخت حکومت له خوا بند (قيد) شوی وو.

اخوا دېخوا ډېر وګرځېد.

بيا مسؤلو کسانو هغه ته په لوړو زده کړو وزارت کې و ويل:

ته پوهېږی چې دا ټولې ودانۍ د جګړې لمړۍ کربښه وه.

دلته ټول اسناد سوزېدلي دي.

بيا يې سوچ وکړ.

په ياد يې راغی چې، يوه کاپۍ له ځانه سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا بشري کواوو (قواوو) ریاست ته لاړ او الته یې ټوله کیسه وکړه.

هغوی و ویل:

هو!

بس داسې بد بختۍ دي.

بیا یې مؤفق ته و ویل:

د ډیپلوم کومه کاپۍ، لرې.

هغه وویل:

هو!

بیا یې کڅوړه خلاصه او کاپۍ یې را و ویسته.

کاپۍ یې مدیر ته وړاندې کړه.

هغه هم په ځیر سره وکته او بیا یې هغه ته و ویل:

ښه به داوې له کوم ځای نه موافقه، راوړئ.

بیا به دې مونږ، هماغه ځای ته، ور وپیژنو.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا یې د مدیر نه خدای پاماني واخیسته او کورته روان شو.

اخوا دېخوا وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې
...................................

هر ښوونځي ته به چې ته، هغه ته به يې بهانې کوې.

د ښوونځيو مديرانو به هغه ته، په ډاګه نه شو ويلای چې ......

مؤفق هم په بده ورکونې کې کومه تجربه، او مهارت نه درلود.

هر چېرې به يې سپينه او پاکه خبره کوه.

په دې اساس هغه ډېره موده په کار موندې کې، تېره کړه.

بيا يې هوډ وکړ تر څو په واسطو پسې وګرځي.

د هغه خور هم په يوه ښوونځي کې، ښوونکې (معلمه) وه.

بيا هغه د خپلې خور کور ته لاړ او د هغې نه يې مرسته، وغوښته.

هغې ورته و ويل:

شپه دلته پاتې شه او سبا به زما سره يوه ځای ښو ونځي ته لاړ شې.

هغه ومنه.

شپه يې د خپلې خور په کور کې، تېره کړه.

سهار وختي پاڅيد.

د اودس او لمونځ نه وروسته د سهار چای يې و څښه.

بيا خور يې و ويل:

راځه چې ښوونځي ته، لاړ شوو.

هغه هم له ځايه پاڅېد او کرتې يې واغوسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې د هنداري په مخ کې خپل وېښتان ږمنځ کړل.

له خور نه یې و غوښتل چې کلونیا (ادیکلون) یا عطر ورته ورکړي.

هغې هم، ورته د عطرو ډبې (بوتل) ورکړ.

مؤفق پر ځان عطر وپاشل.

بیا یې حرکت وکړ.

ښوونځی د نوې کارتې په سیمې کې شتون درلود.

هغوی دواړه په پښو، الته لاړل.

د ښوونځی لویې دروازې ته، ورسېدل.

بیا الته د دروازې امنیتي کس و ویل:

کارتونه مو، وباسئ.

د هغې خور له کڅوړې نه، خپل کارت، و باسه.

بیا کس و ویل:

سمه ده!

ته کولای شئ، ښوونځی ته، د ننه شې.

بیا هغې و ویل:

دا زما ورور دی.

زه غواړم هغه دلته ګډ (شامل) کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغه و ویل:

سمه ده!

کولای شم، هغه تلاشي کړم؟

مؤفق و ویل:

هو!

کومه ستونزه نه شته.

بیا مؤفق نږدې شو او هغه یې تلاشي کړ.

د تلاشۍ نه وروسته هغه د خپلې خور سره ښوونځی ته، ننوت.

بیا دواړه د ښو ونځي ادارې ته ننوتل:

هغې د ناستو کسانو سره، ستړی مشي وکړه.

بیا یې خپل ورور، ناستو کسانو ته، وروپېژاند.

وروسته یوه کس دواړو ته، و ویل:

دېخوا پر څوکیو کښېنئ.

هغوی پر څوکیو کښېناستل.

بیا د دفتر پیاده هغوی ته، چای راوړ.

د چای د څښلو نه وروسته د هغې خور و ویل:

ته دلته، کښېنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به د ښوونځي مدير، وګورم.

مؤفق الته کښېناست.

خور يې د ښوونځي مدير دفتر ته، لاړه.

د ننوتو سره سم د ښوونځي مدير د خپل ځای نه، راپورته شواو هغې ته يې و ويل:

دلته د مېز تر څنګ کښېنه!

هغه هم د لارښوونې سره سم، د مېز تر څنګ کښېناسته.

بيا مدير و ويل:

اورم!

هغې د خپل د ورور په هکله، هغه ته، ټول معلومات ورکړل او د هغه يې وغوښتل چې په ګمارنې کې د هغې سره مرسته وکړي.

بيا مدير و ويل:

سمه ده!

بيا خور يې و ويل:

کولای شم هغه دلته راوغواړم؟

مدير و ويل:

هو!

هغه چېرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغې و ویل:

الته د اداري په څانګې کې، دی.

مدیر خپل چایچې ته، و ویل:

اداري څانګې ته لاړ شه او مؤفق ته غږ وکړه چې دلته راشي.

هغه و ویل:

سمه ده!

چایچې د مدیر د دفتر نه و وت او اداري څانګې ته، ننوت.

الته یې وپوښتل:

مؤفق څوک دی؟

هغه و ویل:

زه یم.

څه دې ویل؟

چایچي و ویل:

هو!

مدیر صیب دې غواړي.

مؤفق له ځایه پاڅېد او د چایچي سره، مدیر دفتر ته، ننوت.

بیا مدیر هغه ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

.................................

راشه!

دلته کښېنه!

هغه هم د مدیر په مخه کې، پر څوکۍ کښېناست.

ځان یې مدیر ته معرفي کړ.

مدیر و ویل:

سمه ده!

مونږ پر تاسو ویاړو.

تاسو د هرې دندې وړتیا لرئ.

زه به کوښښ وکړم چې تاسو ته د ریاضي استاد په توګه دلته او یا کوم بل ښوونځي کې دنده و مومم.

تاسو سوچ مه کوئ.

زه به، په دې هکله، تاسو خور ته خبر ورکړم.

مؤفق او د هغه خور د ښوونځي مدیر نه، مننه وکړه او د مدیر د دفتر نه و وتل.

بیا مؤفق د خپلې خور سره هم خدای پاماني وکړه او د ښوونځي د ودانۍ نه و وت.

خور یې هم د محال ویش سره سم خپل ټولګي ته د سبق ورکولو د پاره، لاړه.

څو اونۍ تېرې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ښوونځي مدير له خوا، کوم خبر را نه غی.

بیا مؤفق خپلې خور ته، زنګ و واهه.

هغې ته يې و ويل:

سبا چې ښوونځي ته لاړې د مدير نه زما په هکله پوښتنه وکړه.

هغې و ويل:

سمه ده!

زه به ترې، پوښتنه وکړم.

سبا شو.

د مؤفق خور د تل په شان وختي ښوونځي ته، لاړه.

مدير نه وه، راغلی.

هغه د مديريت دفتر ته نږدې پر يوې څوکۍ کښېناسته او د مدير په انتظار شوه.

نيمه ګړی وروسته مدير، ورسېد.

هغه له ځايه پاڅيده او مدير ته يې سلام ورکړ.

مدير هم د هغې سلام ته، وعليکم و ويل.

بیا چاپچي په منډو راغی او د دفتر دروازه يې خلاصه کړه.

مدير ښوونکې ته و ويل:

مهرباني وکړی، د ننه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ویل:

لمړی تاسو د ننه شئ چې راسته یاست.

بیا مدیر دفتر ته د ننه شو او ورپسې ښوونکې هم، د ننه شوه.

مدیر پر خپلې څوکۍ کښېناست او ښوونکې ته یې اشاره وکړه تر څو د میز مخې څوکی باندې کښېني.

هغه هم د مدیر د مېز مخې څوکۍ باندې کښېناسته.

بیا مدیر و ویل:

څه دې ویل؟

ښوونکې و ویل:

هو!

بیا مدیر و ویل:

اورم.

هغې و ویل:

میاشت د مخه زه او زما ورور ستاسو دفتر ته راغلي وو.

غوښتل مي چې خپل ورور د ریاضې ښوونکي په توګه وټاکم (مقررکم).

مدیر سر وخوزاوه او ویې ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې په یاد راغی.

زما له هېره (یاده) وتې ول.

ښه شو چې، په یاد دې کړل.

بیایې خپل اداري آمر ته زنګ و واه او هغه یې مدیریت ته راوباله.

هغه هم ځو دکیکې وروسته راورسېد.

مدیر ورته و ویل:

پر ځوکۍ کښېنه!

هغه هم پر ځوکۍ کښېناست.

بیا یې آمر ته و ویل:

تشکیل راوړه.

هغه له ځایه پاڅید او خپل دفتر ته د ننه شو.

ځو دکیکې یې تېرې کړې.

بیا یې څه اسناد په لاس کې و نیول او د مدیر دفتر ته یې د ننه کړل.

مدیر و ویل:

وګوره!

د ریاضي کوم استاد بست، تش(خالی) دی.

هغه په ځیر سره اسناد وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې و ویل:

مدیر صیب!

میاشت د مخه مو یوه بست درلود او تاسو هغه بست کې د یوې ښوونکې سره، موافقه وکړه.

اوس خو تش (خالي) یواځې په اجتماعي ځانګو کې لرو.

بیا مدیر و ویل:

هی، هی.

ما غوښتل چې د ښوونکې ورور چې مسلکي انجینر او ماسټري هم لری په دې ښوونځي کې ګډ (شامل) کړم خو د بده مرغه له سوچ (ذهن) نه مې، وتې وه.

هغه موسکی شو، خو څه یې و نه ویل.

بیا مدیر هغه نه وپوښتل:

په اجتماعي ځانګو کې څو تش (وزګار،خالي) بستونه لرو؟

هغه و ویل:

ټول پنځه بستونه.

بیا مدیر و ویل:

سمه ده!

کولای شئ خپل دفتر ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري مسؤل کس، خپل دفتر ته لاړ.

بیا یې ښوونکې ته و ویل:

د خپل ورور سره سره خبرې وکړه، که چېرې اجتماعي مضمونونو سره لېولتیا لري، سبا یې راولېږه.

هغې سوړ اوسېلی و باسه او و یې ویل:

سمه ده!

زه به ورته ماښام ناوخته، زنګ و وهم.

بیا له ځایه ودرېده (پاڅېده)، د مدیر نه یې خدای پاماني واخیسته او خپل ټولګي ته، روانه شوه.

مدیر سر ټیټ اچولی و او هغې ته یې و ویل:

په مخه دې ښه!

هغې خپل درسي پلان بشپړ او بیا کورته، لاړه.

البته د کور په دندو بوخته شوه.

ماښام ډوډۍ نه وروسته یې ټیلفون را واخیست او خپل ورور ته یې زنګ و واهه.

بیا یې تېره شوې کیسه، خپل ورور تهو وکړه.

ورور یې د اجتماعي مضامینو درس ورکونه، و نه منه.

بیا یې خپلې خور ته، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوږې او ترخې

...................................

نور زما له پاره هغه ته، مه ځه.

کېدای شي هغه هم د ځینو نورو په شان، په بډې اخیستنې اخته وي.

زه به، بل چېرې کوښښ وکړم.

چېرې چې، نصیب وي.

خور يې و ويل:

سمه ده!

خدای مهربانه دی.

څه موده نور هم، اخوا دېخوا وګرځېد.

لږ لږ يې د واسطو او شخصي پېژندنې نه، کار واخیست.

بیا يې د انصارۍ په لېسې کې د رياضي استاد په توګه، دنده ومونده.

وروسته يې خپل ټول اسناد د اصولو سره سم، بشپړ کړل.

څو ورځې خپلو اداری کارونو پسې وګرځېد.

بیا البته رسماً ځای پرځای (مقرر) شو.

پر درس ورکونې يې پيل کړ.

سر ښوونکي سوچ کاوه چې هغه نا سمه وايي.

مګر کوم وخت يې چې دهغه ذکاوت او استعداد ولید، هک پک پاتې شو.

ورو، ورو پر اداری ګرانېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په اخلاص او مینې سره درس، ورکاوه.

زده کونکي هم له هغه نه خوشحاله وو.

څه وخت تېر شو.

بیا یې ترفیع وکړه.

کال وروسته پر هغه اعتماد ډېر او د ځانګي مشر په توګه وګمارل شو.

دنده یې درنه او نوي مسؤلیتونه ور په برخه شوو.

څوکاله یې تېر کړل.

وروسته الته د ښوونځي معاون هم شو.

اوه کاله، په دندې بوخت و.

د هېواد په ټولو ادارو کې فساد پورته (اوج) ته رسېدلی و.

هغه په خپله، ډېر پاک سړی و.

نه یې چاته بډه ورکوه او نه یې له چا نه، بډه اخیسته.

ټولو به د هغه نه ډډه کوه.

ټولې راکړې او ورکړې به، د هغه نه پټې تر سره کېدې.

هر چېرې چې به چې هغه ته، خلکو به ویل:

وچ کالي راغله.

بس!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوريت و.

پر هغه فشار ډېر و.

هر کس به کوښښ کوه چې د هغه ځای، ونیسي.

د مؤفق مينه هم د دندې سره لږېده.

کله ناکله به  هغه نه د پيسو ورکونې وړانديز هم کېده.

بيا وروسته د سپېڅلو (صادقو )خلکو لرې کولو له پاره دامونه کېنول شو.

هرې خوا يې د ارزيابۍ په نامه، پلمې جوړې شوې.

بيا دا پلمې په تحريري او تقريري آزموينو(امتحانونو) بدل شوو.

پوښتنې به جوړېدې او د ځوابونو سره به پلورل کېدې .

هر بست ته سرقلفۍ ټاکل کېده.

هغه هم ورو، ورو له لوړې دندې نه کله په يوه نوم او کله په بل نوم گوښه کېده.

بيا هغه ته د يوې کمېټې  مشرۍ دنده، وسپارل شوه.

هغه په دندې کې صادق و او کوښښ به يې کاوه، تر څو ورکړ شوې دنده په ښې توگه، سر ته ورسوي.

مگر د بلې خوا به ناخوالو او بې عدالتيو به، زوراوه.

هغه ورو، ورو بېرته خپلې لمړنۍ دندې ته راټيټ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند خوړې او ترخې

..................................

بیا به یې د ستونزو سره، سره درس ورکاوه.

څه موده تېره شوه.

د هغه نه غوښتل کېدل چې په جعلي شهادت نامو ورکولو کې، برخه واخلي.

مګر هغه، دا کار و نه مانه.

څه موده نوره یې هم تېره کړه.

بیا اړ شو دنده پرېږدی او په کور کښېني.

هغه دا کار وکړ.

د تل د پاره یې د حکومتي دندې سره، خدای پاماني وکړه.

څه باندې اووه کاله کېږي چې هیڅ دنده نه لري.

اوس هغه په شکر ناروغۍ هم، اخته شوی دی.

په زاړو (لمړي) مکرویان کې، ژوند کوي.

پنځه اولادونه لري، چې څلور یې ځامن او یوه یې لور ده.

اولادونه یې ټول، په بهر کې ژوند کوي.

مؤفق یوازې د خپلې ښځې سره په یوه شخصي اپارتمان کې ژوند کوي.

سهار وختي لمانځه ته پاځېږی، لمړی اودس بیا جومات ته لمانځه له پاره ځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسته، کورته راځي او د سهار چای څښي.

کله کتابونه او ديني موضوعات لولي او په يوټيوب چينل کې يې تعقيبوي.

بيا وروسته، تفريحي پارکونو ته ځي، د ونو او ګلانو ننداره کوي.

ځينې وختونه، سپورتي لوبغالوته ځی او د الکانو فوټبال او واليبال ننداره کوي.

غرمې ډوډۍ ته، کورته ځي.

ډوډۍ نه وروسته اودس کوي، بيا لمونځه ته، جومات ته ځې.

بيا تر ماښامه په شنو پارکونو کې، پر څوکيو کښېني.

د ونو، ګلانو او بوټو نه، خوند اخلي.

هغه د ډېرو نورو کسانو سره بلد (آشنا) شوی دی.

کله ناکله د هغوی سره خبرې، اترې او باندار هم کوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی نړۍ انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی نړۍ انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / نړۍ انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی نړۍ انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه تولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦۱. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږي او ترخې (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٢. لیونی لېوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خړه بیزو
٧. بندي مرغه
٨. بې وخته باران
٩. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د امکان او وخت په صورت کې**

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Sweet and bitter of life

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** September - November /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**